


پرلپسي شمېره ۰۹

## د ملي وحدت حکومت په کابینه کې د ښځو وزیرانودمقررولوپه تړاود افغان ښځوشبکې اعلامیه

**کابل–افغانستان**

**۱۳۹۴/۱/۳۱**

د افغان ښځو شبکه ټولو ګډونوالو مسوولينو ته د ملي وحدت په حکومت کې د ځلورو ښځو د شتون او د کابينې د تشکيل مبارکي وايي او د ولسي جرګې د غړو له لورې دغو نوماند وزيرانو ته د باور رايې له ورکولو څخه مننديي کوي.

د افغان ښځو شبکه د ولسمشريزو ټاکنو په لومړي او دويم دور کې د ټاکنيزو منډو ترړو په اوږدو کې په پرلپسي توګه په حق غوښتلو او د ملي وحدت د حکومت له جوړښت څخه وروسته د افغانستان په کابينه کې د ښځو د ګډون غوښتونکې شوه. د افغان ښځو شبکې لږه موده وړاندې د ځلورو ښځينه وو نوماند وزيرانو، پخوانيو وزيرانو (ښځينه طبقه)، د پارلمان په دواړو شوراګانو کې ښځينه وکيلانو، ښځينه مدني فعالانو او د نومورې شبکې د غړو تر منځ د هغوي د پروګرامونو د څېړلو په موخه د همغږۍ يوه غونډه جوړه کړه.په کليدي وزارتونو (د کار، ټولنيزو چارو او شهيدانو او معلولينو وزارت، له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او د ښځو چارو وزارت) کې د ځلورو ښځينه وزيرانو رول به ډېر مهم او له مسووليت څخه ډک وي. د افغان ښځو شبکه په ټولو وزارتونو کې، په ځانګړي ډول هغو ځلورو وزارتونو کې چې د ښځينه وزيرانو له لورې اداره کيږي، د جنسيتي برابرۍ د تقويې، ظرفيت جوړونې، کار وړ کس ته د سپارلو او د ښځو د پرېکړه نيونې د رول د زياتولو غوښتونکې ده. لکه څنګه چې نوماند وزيرانو له ولسي جرګې څخه له رايې اخيستنې وړاندې خپل پروګرامونه تشريح کړي وو، د ښځو وضعيت غوره کول د هغوي له کاري لومړيتوبونو څخه شمېرل کيږي او همدا راز د هغوي د کاري پروګرامونو په تقويه کولو کې د دولتي او غير دولتي بنسټونو تر منځ د همغږۍ د فضا رامنځ ته کول او پراخول د هغوي ژمنه شمېرل کيږي او د هغوي له لورې د ټولو يادو شوو پروګرامونو د عملي کولو هيله لرو.

د افغان ښځو شبکه په ټولو اړونده وزارتونو کې د ښځو د رول د ښه والي لپاره هر ډول همکارۍ او همغږۍ ته چمتو ده. همدا راز به د وزيرانو رول او کړنې او د هغوي له لورې چمتو کړي پلانونه او ژمنې له هغوي سره په پرلپسې ډول تعقيب کړي.

د لا زياتو معلوماتو لپاره اړيکه

0777743023 0777743042 0777743036

د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکه

د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکه

0777743023 0777743042 0777743036